# إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْثُرْ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْثُرْ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي وَضُوئِهِ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لاَ يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ». ولفظ مسلم: «إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ». "کله چې ستاسو څخه يو څوک اودس وکړي، نو پوزې ته دې اوبه واچوي، بيا دې سوڼ کړي، او که له تاسو څخه يو څوک اودس وچوي نو په تاق عدد (اودس ماتو) دې وچ وکړي او کله چې له تاسو څخه يو څوک له خوبه راپاڅيږي، نو خپل لاس دې ومينځي، مخکې له لوښي کې ښکته کړي، ځکه چې ستاسو څخه يو څوک پدې نه پوهيږي چې لاس يې شپه چېرته‌دې چې هغه په تېره کړې ده». او د مسلم لفظ داسې دی: کله چې له تاسو څخه څوک له خوبه راويښ شي، نو تر هغې دې خپل لاس په لوښي کې نه ډوبوي، تر څو چې يې درې ځلې پرېمنځلی نه وي، ځکه هغه نه پوهېږي چې لاس يې په کوم ځای کې شپه تېره کړې ده».

[(صحيح) [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د پاکوالي ځينې حکمونه بيان کړل چې له جملې څخه يې ځينې دا دي: لومړی: څوک چې اودس کوي نو بايد چې پوزې ته اوبه له تنفس سره کش کړي، او بيا يې بېرته په تنفس کولو سره راوباسي، يعني سوڼ يې کړي. دويم: که څوک وغواړي چې د حاجت له رفع کولو وروسته له پليتې څخه ځان له اوبو پرته په نورو څېزونو پاک کړي لکه تېره او داسې نور نو بايد چې په تاق عدد سره يې پاک کړي چې تر ټولو کم شمېر يې درې دی او زيات يې دومره دی چې ناپاکي پرې پاکه شي او د اودس ماتي ځای پاک شي. دريم: څوک چې د شپې له خوبه راپاڅيږي نو بايد د اودس کولو لپاره خپل لاس په لوښي کې دننه نه کړي تر دې چې له لوښې څخه د باندې يې درې ځلې ووينځي، ځکه هغه نه پوهيږي چې لاس يې چېرته شپه تېره کړې ده، او هېڅ ډاډ نشته چې لاس به يې له پليتې څخه پاک وي او کېدای شي شيطان پرې لوبې کړې وي او داسې شيان يې ورته راوړي وي چې انسان ته ضرر لري او يا اوبه خرابوي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee